واکسین د مالوماتو بیانیه

Many vaccine information statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین د معلوماتو اړوند ډیری بیانونه په پښتو او نورو ژبو کې موجود دي. www.immunize.org/vis وګورئ.

# د زوسټر (زونا) نوي تشکیل شوي واکسین: هغه څه چې تاسو باید پرې پوه شئ

## 1. ولې واکسین وکړو؟

**د زوسټر (زونا) نوي تشکیل شوي واکسین** کولای شي چې د **زونا** مخنیوي وکړي.

**زونا** (چې د هرپس زوسټر، یا یوازې زوسټر په نوم هم یادیږي) د پوستکي یوه دردناکه دانه ده، چې معمولاً د تڼاکو لرونکي وي. د دانې سربېره، زونا کولای شي چې د تبې، سردردی، ساړو، یا ناکراره معدې لامل وګرځي. ندرتا، زونا کولای شي چې د سینه و بغل، د اوربېدو د ستونزو، ړندیدو، د مغزو د التهاب (encephalitis)، یا مړینې لامل وګرځي.



د زونا خطر له عمر سره لوړیږي. د زونا تر ټولو ډېره عامه ستونزه اوږدمهاله عصبي درد دی چې د postherpetic neuralgia (PHN)) په نوم یادیږي. PHN په هغو برخو کې پېښیږي چېرې چې د زونا دانې شتون درلود او وروسته لدې چې دانه له منځه ولاړه شي د میاشتو او کلونو لپاره دوام کولای شي. د PHN درد ښایي شدید او کمزوری کوونکی اوسي.

د PHN خطر له عمر سره لوړیږي. په زونا باندی اخته لوی کس د یو ځوان پرتله ډېر احتمال لري چې په PHN اخته شي او اوږدمهاله او شدید درد ولري.

هغه افراد چې د معافیت کمزوري سیستمونه لري په زونا باندې د اخته کیدو او دې ناروغۍ په ستونزو باندې د اخته کېدو له لوړ خطر سره مخ دي.

زونا د وارسیلا-زوسټر وایرس له امله چې کوڅک ته ورته وایرس دی، رامنځته کیږي. وروسته لدې چې تاسو په کوڅک اخته شئ، دا وایرس ستاسو په بدن کې پاتې کیږي او راتلونکې کې په ژوند کې د زونا لامل ګرځي. زونا له یو کس څخه بل کس ته نه انتقالیږي، مګر کوم وایرس چې د زونا لامل ګرځي هغه خپرېدلی شي او په هغه کس کې د کوڅک لامل ګرځي چې هېڅکله هم په کوڅک نه وي اخته شوي یا یې هیڅکله هم د کوڅک واکسین نه وي ترلاسه کړي

## 2. د زونا نوی تشکیل شوی واکسین

د زونا نوی تشکیل شوی واکسین د زونا پر وړاندې پیاوړی خوندیتوب برابروي. د زونا د مخنیوي پواسطه، د زونا نوی تشکیل شوی واکسین د PHN او نورو ستونزو پر وړاندې هم خوندیتوب رامنځته کوي.

د زونا نوی تشکیل شوی واکسین د لاندې مواردو لپاره وړاندیز کیږي:

**50 کلن او هغه څخه پورته عمر لرونکي کسان**

**19 کلن او هغه څخه پورته بالغ افراد چې د ناروغۍ یا درملنو** له امله د معافیت کمزوری سیسټم لري

د زونا واکسین د دوه ډوزه واکسین د لړۍ په توګه ورکول کیږي. د اکثره خلکو لپاره، دویم ډوز باید له لومړي ډوز څخه د 2 تر 6 میاشتو وروسته ورکړل شي. ځنې خلک چې د معافیت کمزوری سیسټم لري یا یې ښایي ولري کولای شي چې دویم ډوز له لومړي ډوز څخه د 1 تر 2 میاشتو وروسته ترلاسه کړي. لارښوونو لپاره د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي څخه پوښتنه وکړئ.

هغو خلکو ته چې پخوا په زونا اخته شوي وي او هغه خلکو ته چې د وارسیلا (کوڅک) واکسین یې ترلاسه کړي وي سپارښتنه کیږي چې د زونا نوي تشکیل شوي واکسین ترلاسه کړي. دا واکسین د هغو خلکو لپاره هم وړاندیز کیږي چې د زونا د واکسین بل ډول، د زونا ژوندی واکسین، یې له وړاندې څخه ترلاسه کړي وي. د زونا په نوي تشکیل شوي واکسین کې ژوندی واکسین نشته.

د زونا واکسین ښایي لکه د نورو واکسینونو په څېر په ورته وخت کې ورکړل شي.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

## 3. د خپل روغتیایي پاملرنې چمتو کونکي سره خبره وکړئ

خپل چمتو کونکي ته ووایئ که چیرې د واکسین تطبیق کونکی کس:

- د زونا نوي تشکیل شوي واکسین له مخکینۍ دوز څخه وروسته یې یو **الرژیکي غبرګون څرګند کړي وي**، یا یې **شدیدي، د ژوند ګواښونکي الرژي ګانې لرلې وي**
- **اوسمهال د زونا یوه برخه تجربه کړي**
- **امیندواره** وي

په ځنو مواردو کې، ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی شایي پریکړه وکړي چې د زونا واکسین تر راتلونکي لیدنې پورې وځنډوي.

د کوچنیو ناروغیو لکه زکام لرونکي کسان، شایي واکسین شي. هغه کسان چې لږ یا ډېر ناروغ دي باید په معمول ډول سره د زونا د نوي تشکیل شوي واکسین له تطبیقولو څخه وړاندې د صحتمنده کیدو تر موډې پورې صبر وکړي.

ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی تاسو ته لا ډېر مالومات درکولای شي.

## 4. د یو واکسین د غبرګون خطرونه

- د زونا نوي تشکیل شوي واکسین څخه وروسته د مټ خفیف یا معتدل درد ډېر معمول دی. د پیچکارۍ په ځای کې سوروالی یا پړسوب هم رامنځته کیدلی شي.
- ستړیا، د عضلاتو درد، سردردي، لړزه، تبه، د معدې درد، او تهوع د زونا نوي تشکیل شوي واکسین څخه وروسته معمول دي.

دا جانبي عوارض شایي په مؤقتي ډول سره د معمولو فعالیتونو له ترسره کولو څخه د واکسین شوي کس مخنیوي وکړي. علایم په معمول ډول سره په 2 یا 3 ورځو کې پخپله له منځه ځي. تاسو باید د زونا د نوي تشکیل شوي واکسین دویم دوز بیا هم ترلاسه کړئ که چیرې تاسو له لومړي دوز څخه وروسته لاندې یو غبرګون څرګند کړی وي.

د ګیلن باري سنډروم (GBS) په اړه چې د عصبي سیسټم یو جدي اختلال دی، د زوسټر د نوي تشکیل شوي واکسین څخه وروسته ډېر لږ راپور ورکړل شوی دی.

خلک کله نا کله، د واکسین کولو په ګډون، له طبي اقداماتو څخه وروسته بیهوښه کیږي. که چیرې تاسو د ګنګس توب یا د لید د بدلونونو یا غوږونو کې د زنګ د آواز احساس کوئ، پدې اړه خپل چمتو کونکي ته ووایئ.

له هر ډول درملو سره، د یو واکسین لپاره خورا لږ چانس شتون لري چې د شدید الرژیکي غبرګون، یا بل جدي زیان، یا مړینې لامل وګرځي.

## 5. که چیرې کومه جدي ستونزه شتون ولري نو څه؟

وروسته لدې چې واکسین شوی کس کلینیک پرېږدي پدې صورت کې یو الرژیکي غبرګون رامنځته کیدلی شي. که چیرې تاسو د جدي الرژیکي غبرګون علایم (التهابونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفس کې ستونزه، د زړه چټک ضربان، پرکالتوب، یا کمزوري) وګورئ، له **9-1-1** شمېرې سره اړیکه ونیسئ او اړونده کس تر ټولو نږدې روغتون ته ورسوئ.

د هغو نورو علایمو لپاره چې تاسو اندېښمن کوي، د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي سره اړیکه ونیسئ.

د نا مطلوبو غبرګونونو په اړه باید د واکسین د نامطلوبو پېښو د راپور ورکولو سیسټم (VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو د روغتیایي پاملرنې چمتو کونکی به دا راپور ثبت کړي، یا دا کار تاسو په خپله ترسره کولای شئ. د VAERS له ویب پاڼې څخه په www.vaers.hhs.gov کې لیدنه وکړئ یا له **1-800-822-7967** شمېرې سره اړیکه ونیسئ. VAERS یوازې د غبرګونونو د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکونکي غړي طبي مشوره نه ورکوي.

## 6. زه مالومات څنګه ترلاسه کولای شم؟

- د خپلې روغتیایي پاملرنې له چمتو کونکي څخه پوښتنه وکړئ.
- له خپلې سیمه ایيزې یا ایالتي روغتیایي څانګې سره اړیکه ونیسئ.
- د واکسین د بستې او لا ډېرو مالوماتو لپاره د خواړو او درملو د ادارې (FDA) له ویب پاڼې څخه په www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines کې لیدنه وکړئ.
- د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي له مرکزونو (CDC) سره اړیکه ونیسئ:
  - د 1-800-232-4636 (1-800-CDC-INFO) شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا
  - د CDC له ویب پاڼې څخه په www.cdc.gov/vaccines کې لیدنه وکړئ.

د طبي پاملرن ه )ني( چمتو کونکو ته د واکسین کولو دقیق وضعیت معلوماتو، د واکسی ن کولو ارزونه، او د راتلونکي وخت واکسین کولو لپاره و ړاندیز شوی مهالویش اجازه ورکولو لپاره، معلومات به د میشیګان پاملرن ې بنه والي ثبتوني ( Michigan Care Improvement Registry ( ته واستول شي. اشخاص د دي غوښتن ه کولو حق لري چي د دوی د طبي پاملرني چمتو کونکي ثبتوني ته د واکسی ن کولو معلومات ونه لیږ ي.